دافغانستان دقومونودتفاهم ملی نهضت عالی شورا 28 جنوری، ۲۰۰۹

بسم الله الرحمن الرحیم

دافغانستان دقومونودتفاهم ملی نهضت دعالی شوراا علامیه !

دقومونودتفاهم ملی نهضت چی دخپل جوړښت دپیل نه یی دگران افغانستان دستونځوحل یوازی دټولوورونوقومونوپه یووالی کی لیدی اوگوری یی اوودی مقدس ارمان ته درسیدودپاره یی دیری هلی ځلی اومبارزی کړیدی اوکوی یی اوس چی دیوه پلوه گران هیواد ددیرحساس پراونه تیریږی په هیوادکی دهراړخیزتغیراتوسخت ضرورت دی

دافغانستان دقومونودملی نهضت عالی شورا دخپل هغه تاریخی اسلامی اوملی مسولیت په اسا س چی دخپل مظلوم ملت ، خپلی مقدسی خاوری، اسلام اوتاریخ په وړاندی یی لری د۱۳۸۷کال دلوی دمیاشتی په اتمه نیټه یوه فوق العاده غونډه وکړه اوپه دی غونډه کی لانی اعلامیه خپروی .

اول:دافغانستانټولودرنوقومونو،قدرمنومشرانو،حق غوښتونکودینی عالمانو،پاکواوقهرمانومجاهیدینو، وطن پالوروشنفکرانو، ځوریدلوخوندو، غم ځپلوځوانانو ،سیاسی گوندونو ، مدنی ټولنو، ملی سوداګرو، وړوتړوگروندګرواودهقانانو، دښوونی اوروزنی ،لوړوزده کړو، دملی اردو، ملی پولیسومنسوبینو، قومی اوولسی شوراګانو صنفی اومسلکی اتحادیو خوږمنو معیبوبینو په پردی دیارکی سرګردانه مهاجرینو، کونډواو یتمانو،فرهنګی جوړښتونو او ټول میرنی ملت ته خواست کوی چی دګران افغانستان دژغورنی اوساتنی په خاطرلاسونه سره ورکړی اودیوه باجراته ملی مشرتابه چی په غلا ، قتلونو، ملی خیانت ، قومی تعصب ،اواختلاص تورن نوی پرشاوخوا راټول سی ترځوپه ګډه یوه سالمه اداره اودامنیت ډډمنه فضا رامنځ ته کړای سو، وروروژنی ، غربت، بی اتفاقی اونوروناخوالوته دپا ټکی کښیږدو.

دوهم : - دافغانستان دقومونوملی نهضت عالی شورا دټولټاکنوپرکمیسون ،دولت اونړیواله ټولنه ږغ کوی چی داساسی قانون داوصولواودټولټاکنودلایحی سره برابرتولوهغوافغانانوته چی درایی ورکولوحق لری دکارت اخیستلواورایی ورکولودپاره ډډمنه فضا رامنځ ته کړی پرته له دی به هم ټولټاکنی هم دټولټاکنوکمیسون ،دولت اونړیواله ټولنه ټول ترسوال لاندی راولی اودټوټاکنی به خپل مشروعیت دلاسه ورکړی مسول ارګانونه باید هغه ستونځی چی دامنیت اودټولټاکنود وخت د ځنډ یدوپه لاره کی پرتی دی ژرترژره لیری کړی .

دریم : دټولټاکنوکمیسون اونړیواله ټولنی نه هیله کووچی په انتخاباتوکی دهرډول درغلیو رشوت ، دمقام اوموقف نه دغیرقانونی ګټه پورته کولونه په کلکه ځارنه وکړی اوټوکټاکنی دی پرخپل قانونی وخت اوپه شفاف ډول ترسره کړی.

ځلورم : دافغانستان دقومونودتفاهم ملی نهضت عالی شورا دافغانستان دټولوورونوقومونوسره دپرله پسی مشوروادهغوی دغوښتونوپه اساس اوهمدارنګه دافغانستان داسنی بحران نه دراوتلوپه خاطر دولسمشری دپاره ښاغلی سردارعبدالعلی سراج دغازی اعلحضرت امان الله خان وراره چی دلوړوتحصلاتودرلودونکی یووطن دوسته اوملی شخصیت دی خپل کاندید اعلانوی ټولومشرانواوکشرانو اومیرنی ملت بلنه ورکوی چی زموږددی کاروان سره ملګری سی اوهم ژرترژره په هیواد کی دهغو تغیراتوپه هکله ټولنه ورته دیرضرورت لری خپلی نظریی اوپیشنهادونه د نهضت عالی شورا ته راولیږی.

پنځم : - دښاغلی سردارعبدالعلی سراج نه په دیره درناوی هیله کووچی زموږ دی پیشنهاد ته مسبت جوا ب ورکړی .

ومن الله توفیق

دافغانستان دقومونودتفاهم ملی نهضت عالی شورا
کابل – افغانستان د۱۳۸۷کال دلوی دمناشتی اتمه نیټه
ادرس – دکلا فتح الله ځلورلاری مدینه بازار ته مخامخ دنهضت دفتر
لمبرتلفون ----- ۰۷۹۷۹۰۷۴۳۸

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de